مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری

۲۰۲۶/۱۱/۱۵

۵ . د سیاسي سیستم د غبرګون او اصلاح بهیر

(د لومړي څېړکي، سیاسي سیستم- شپږمه برخه)

سیاسي سیستم (سیاسي نظام) یو ثابت، ټرلی او نه بدلېدونکی جوړښت نه دی، بلکي یو متحرک او پرانیستی سیستم دی چې د ټولنې د بدلونونو، نویو اړتیاوو، سیاسي غوښتنو، اقتصادي او ټولنیزو شرایطو او د خپلو پرېکړو د پایلو له مخې خپل فعالیتونه تنظیموي او د اړتیا په صورت کې په خپل جوړښت او پالیسیو کې بدلون راولي.

د سیاسي نظام د غبرګون او اصلاح بهیر هغه دوامداره پروسه ده چې په ترڅ کې یې د سیاسي پرېکړو او پالیسیو پایلې ارزول کېږي، د خلکو او نورو اړوندو بنسټونو نظرونه او نیوکې ترلاسه کېږي، موجودي نیمګړتیاوې او ستونزې پېژندل کېږي او د هغو د حل لپاره اصلاحي اقدامات ترسره کېږي.

په دې بهیر کې خلک، رسنۍ، سیاسي ګوندونه، مدني ټولنې، څېړنیز مرکزونه، پارلمان، قضایي بنسټونه او خپلواک څارونکي ارګانونه مهم رول لري. دغه بنسټونه او فعالان د سیاسي سیستم د فعالیتونو په اړه معلومات راټولوي، د پرېکړو او پالیسیو پایلې ارزوي او د اصلاح لپاره خپل نظرونه او وړاندیزونه وړاندې کوي.

د بېلګې په توګه، که حکومت د بېکارۍ د کمولو لپاره یوه ځانګړې پالیسي تصویب او پلي کړي، خو د هغې له لارې د کار فرصتونه د ټاکل شوي هدف په اندازه زیات نه شي، نو اړوند بنسټونه باید د دې وضعیت علتونه وڅېړي. کېدای شي د بودیجې کمښت، د پروګرامونو ناسم تطبیق، د مسلکي مهارتونو نشتوالی یا د پالیسي په طرحه کې نیمګړتیاوې د مطلوبو پایلو د نه ترلاسه کېدو لامل شوي وي. د دغو عواملو له پېژندلو وروسته اړین اصلاحي اقدامات ترسره کېږي.

په دې توګه، د غبرګون او اصلاح بهیر سیاسي سیستم ته دا امکان برابروي چې خپلې تېروتنې وپېژني، د فعالیتونو کیفیت لوړ کړي او د ټولنې له بدلېدونکو اړتیاوو سره ځان عیار کړي.

۵.۱. د خلکو د نظرونو، شکایتونو او نیوکو ترلاسه کول

د سیاسي سیستم د غبرګون او اصلاح په بهیر کې د خلکو نظرونه، شکایتونه او نیوکې د معلوماتو یوه مهمه سرچینه جوړوي. خلک د دولتي پالیسیو او خدمتونو له مستقیمو اغېزو سره مخ وي؛ له همدې امله کولای شي د هغو د مثبتو او منفي پایلو په اړه عملي معلومات وړاندې کړي.

خلک خپلې غوښتنې، نیوکې او شکایتونه د بېلابېلو طریقو له لارې اړوندو ادارو ته رسوي؛ لکه د شکایتونو د ثبت سیستمونه، عامه غونډې، غوښتنلیکونه، د ټولنیزو رسنیو شبکې، مدني ټولنې، سیاسي ګوندونه او د خلکو استازي.

د خلکو د نظرونو او شکایتونو ترلاسه کول یوازې د نارضایتۍ د ثبتولو لپاره نه دي، بلکي د دولتي خدمتونو د کیفیت، د پالیسیو د اغېزمنتیا او د ادارو د فعالیتونو د ارزونې لپاره هم اهمیت لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بېلګې په توګه، که د يوې سيمې اوسېدونکي د روغتيايي مرکزونو د درملو له کمښت يا د خدمتونو له خراب کيفيت څخه شکايت وکړي، اړوندې اداري بايد دغه شکايتونه وڅېړي، د ستونزې اصلي علتونه پيدا کړي او د حل لپاره اقدامات ترسره کړي.

له همدې امله، د خلکو د نظرونو اوربدل او د شکايتونو پر وړاندې مناسب غبرګون د حکومت او ټولنې ترمنځ د متقابل باور او حساب ورکونې د پياوړتيا لپاره مهم دي.

۵.۲. د رسنيو او عامه څارنې رول

رسنۍ د سياسي سيستم د غبرګون او اصلاح په بهير کې د معلوماتو د خپرولو، عامه پوهاوي او د دولتي فعاليتونو د څارنې مهم رول لري. رسنۍ د خپلو راپورونو، څېړنيزو خپرونو، مرکو او تحليلي پروګرامونو له لارې د دولتي ادارو فعاليتونه، د پاليسيو پايلې، اداري ستونزې او د خلکو غوښتنې تر عامه بحث لاندې راولي. همدارنګه، خپلواکې رسنۍ کولای شي د فساد، اداري بېنظمۍ، د عامه سرچينو د ناسم استعمال او د دولتي مسؤليتونو د نه ترسره کېدو په اړه معلومات خپاره کړي.

د بېلګې په توګه، که يوه رسنۍ د عامه پروژې په پلي کولو کې د مالي لګښتونو د ناسم استعمال په اړه څېړنيز راپور خپور کړي، دغه راپور کولای شي د اړوندو څارونکو ادارو، پارلمان او نورو مسئولو بنسټونو د څېړنې او اقدام زمينه برابره کړي. په دې توګه، رسنۍ د ټولنې او دولتي بنسټونو ترمنځ د معلوماتو د لېږد وسيله ده او د شفافيت، عامه حساب ورکونې او د پاليسيو د اصلاح په بهير کې ونډه لري.

۵.۳. د پارلمان او څارونکو بنسټونو ارزونه

پارلمان او خپلواک څارونکي بنسټونه د سياسي سيستم د فعاليتونو او د دولتي ادارو د کړنو د ارزونې لپاره مهم جوړښتي او قانوني رول لري.

پارلمان د خپلو قانوني صلاحيتونو له مخې د حکومت فعاليتونه څاري، د بودیجې د لګښتونو په اړه پوښتنې کوي، د دولتي پروګرامونو د تطبيق څرنګوالی ارزوي او د اړتيا په صورت کې له مسؤلو چارواکو څخه توضيحات غواړي.

همدارنګه، د تفتيش عالي اداري، د بشري حقونو خپلواک بنسټونه، د فساد پر وړاندې د مبارزې اداري او نور قانوني څارونکي ارګانونه د خپلو صلاحيتونو په حدودو کې د دولتي فعاليتونو ارزونه ترسره کوي.

د دغو بنسټونو د څارنې موخه دا ده چې ډاډ ترلاسه شي چې دولتي اداري خپل قانوني مسؤليتونه ترسره کوي، عامه سرچينې په مناسبه توګه کارول کېږي او د خلکو حقونه او ګټې په پام کې نيول کېږي.

د بېلګې په توګه، که د يوې دولتي پروژې په پلي کولو کې د بودیجې له ټاکل شوي مقدار څخه زيات لګښت شوی وي، د تفتيش اداره کولای شي د لګښتونو اسناد وڅېړي او خپل راپور پارلمان يا نورو مسؤلو بنسټونو ته وړاندې کړي.

له همدې امله، پارلماني او اداري څارنه د دولتي فعاليتونو د اصلاح، شفافيت او حساب ورکونې د پياوړتيا مهمه وسيله ده.

۵.۴. د مدني ټولنو او متخصصانو ونډه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مدني ټولنې او متخصصان د سياسي سيستم د غبرګون او اصلاح په بهير کې د خپلواکې ارزونې، څېړنې او مسلکي مشورې له لارې مهمه ونډه لري. مدني ټولنې د خلکو غوښتنې او ستونزې راټولوي، د ټولنيزو ډلو استازيتوب کوي، د دولتي پاليسيو اغېزې ارزوي او د اصلاح لپاره وړانديزونه وړاندې کوي.

متخصصان او څېړنيز بنسټونه بيا د علمي څېړنو، احصائيوي معلوماتو، تخنيکي تحليلونو او مسلکي ارزونو له لارې د پاليسيو د کمزوريو او مثبتو اړخونو په پېژندلو کې مرسته کوي.

د ښکلګي په توګه، که يوه اداره د ښوونې او روزنې نوې پاليسي پلي کړي، پوهنتونونه او څېړنيز مرکزونه کولای شي د زده‌کوونکو د تعليمي پايلو، د ښوونکو د مسلکي وړتياوو او د ښوونيزو امکاناتو په اړه څېړنې ترسره کړي او د پاليسي د ښه کولو لپاره علمي وړانديزونه وړاندې کړي. په دې توګه، مدني ټولنې د ټولنې د غوښتنو او ګټو د انعکاس او متخصصان د علمي او تخنيکي ارزونې له لارې د سياسي سيستم د اصلاح په بهير کې مرسته کوي.

۵.۵. د ټاکنو له لارې د خلکو سياسي قضاوت

ټاکنې د سياسي سيستم د غبرګون او حساب ورکونې يوه مهمه ديموکراتيکه وسيله ده. د ټاکنو له لارې خلک کولای شي د حکومت او سياسي استازو د ټېرو فعاليتونو، پرېکړو او پاليسيو په اړه خپل سياسي قضاوت څرګند کړي. په ديموکراتيکو نظامونو کې رايه‌ورکوونکي د خپلو استازو او سياسي ګوندونو د فعاليتونو، لاسته راوړنو، ژمنو او پاليسيو له ارزونې وروسته د ملاتړ يا نه ملاتړ پرېکړه کوي. که خلک د يوه حکومت له فعاليتونو او پاليسيو څخه رضايت ولري، ښايي د هغه له سياسي استازو او ګوندونو څخه ملاتړ ته دوام ورکړي. برعکس، که د حکومت فعاليتونه د خلکو له غوښتنو سره برابر نه وي، رايه‌ورکوونکي کولای شي د ټاکنو له لارې خپل سياسي ملاتړ بدل کړي.

د ښکلګي په توګه، که يوه حکومت د ټاکنيز کمپاين پر مهال د کارموندنې، ښوونې او روغتيا په برخو کې ژمنې کړې وي، خو د خپلې واکمنۍ پر مهال يې د دغو ژمنو په پوره کولو کې کافي پرمختګ نه وي کړی، رايه‌ورکوونکي کولای شي د راتلونکو ټاکنو پر مهال د خپلو ارزونو له مخې بل سياسي انتخاب وکړي.

البته، ټاکنې د خلکو د قضاوت يوازينۍ وسيله نه ده؛ بلکې عامه بحثونه، مدني فعاليتونه، رسنۍ او نور قانوني ميکانيزمونه هم د سياسي حساب ورکونې په برخه کې اهميت لري.

۵.۶. د پاليسيو او اداري فعاليتونو ارزونه

د پاليسيو او اداري فعاليتونو ارزونه د سياسي سيستم د غبرګون او اصلاح يو مهم تخنيکي او مديريتي پراو دی. په دې پراو کې د پاليسيو د ټاکل شويو موخو او عملي پايلو ترمنځ پرتله (مقايسه) ترسره کېږي، د مالي او بشري سرچينو د کارونې څرنګوالی ارزول کېږي او د ادارو د فعاليتونو د کيفيت په اړه معلومات راټوليږي.

د دې ارزونې لپاره ښکلابېل شاخصونه کارول کېږي؛ لکه د موخو د تر لاسه کېدو کچه، د خدمتونو کيفيت، د لګښتونو اندازه، د فعاليتونو پر وخت ترسره کېدل، د خلکو رضايت او د ټولنيزو او اقتصادي ستونزو په حل کې د پاليسۍ اغېز.

د ښکلګي په توګه، که حکومت د کليوالي سيمو د روغتيايي خدمتونو د پراختيا لپاره يو پروګرام پلي کړی وي، نو د ارزونې پر مهال بايد معلومه شي چې څومره روغتيايي مرکزونه جوړ شوي، څومره روغتيايي کارکوونکي ګومارل شوي، څومره خلک له خدمتونو برخمن شوي او د روغتيايي وضعيت په ښه کېدو کې څه ډول بدلون راغلی دی.

د ارزونې پايلې د پاليسۍ د بريالیتوب او نيمګړتياوو په اړه معلومات وړاندې کوي او د راتلونکو اصلاحاتو لپاره بنسټ جوړوي.

۵.۷. د پاليسيو اصلاح او بياکتنه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله چې د ارزوني، ځارنې او بېرته‌غبرګون له لارې د يوې پالیسۍ نیمګړتیاوې او ستونزې څرګندې شي، نو اړوند بنسټونه باید د هغو د اصلاح لپاره مناسب اقدامات ترسره کړي. د پالیسۍ اصلاح په دې معنا ده چې د يوې موجودې پالیسۍ په موخو، میتودونو، اداري جوړښت، سرچینو یا د پلي کېدو په طریقه کې د اړتیا له مخې بدلون راوستل شي.

د اصلاح اقدامات په بېلابېلو بڼو ترسره کېدای شي، لکه:

- د پالیسۍ د ځینو برخو تعدیل او اصلاح؛
- د پالیسي د پلي کولو لپاره د اضافي بودیجې ځانګړي کول؛
- د ادارو د مسؤلیتونو او صلاحیتونو بیا تنظیم؛
- د کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړول؛
- د نوي قانون یا مقرراتو تصویب؛
- د پخوانۍ پالیسۍ لغوه کول او د نوې پالیسۍ جوړول.

د بېلګې په توګه، که د يوې تعلیمي پالیسۍ ارزونه څرګنده کړي چې په لرې پرتو سیمو کې د ښوونکو کمښت د هغې د بریالي تطبیق مخه نیسي، نو حکومت کولای شي د ښوونکو د ګومارنې لپاره نوې طرحه جوړه کړي، د هغوی لپاره ځانګړي امتیازات برابر کړي او د ښوونکو د روزنې پروګرامونه پراخ کړي.

له همدې امله، د پالیسيو اصلاح د سیاسي سیستم د زده‌کړې او تطابق یوه مهمه وسیله ده چې د تېرو تجربو او ارزونو پر بنسټ د راتلونکو فعالیتونو د ښه کولو زمینه برابروي.

۵.۸. د سیستم تطابق او سازماني زده‌کړه

د غبرګون او اصلاح بهیر په اوږدمهال کې د سیاسي سیستم د تطابق او سازماني زده‌کړې لامل کېږي.

تطابق هغه وړتیا ده چې سیاسي سیستم د ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او نړیوالو بدلونونو په وړاندې خپل جوړښت، فعالیتونه او پالیسۍ عیار کړي.

سازماني زده‌کړه بیا هغه بهیر دی چې په ترڅ کې يې اداري او سیاسي بنسټونه له خپلو تېرو تجربو، بریاوو، ناکامیو او ارزونو څخه زده‌کړه کوي او د راتلونکو فعالیتونو لپاره له دغو تجربو څخه ګټه اخلي.

د بېلګې په توګه، که يوه دولتي اداره د عامه خدمتونو د وړاندې کولو پر مهال د اداري ځنډ او کاغذي پروسو (بیوروکراسۍ) له ستونزو سره مخ وي، نو د خپلو تجربو او ارزونو پر بنسټ کولای شي ډیجیټلي خدمات رامنځته کړي، اداري کړنلارې ساده کړي او د خلکو لپاره د خدمتونو د ترلاسه کولو وخت راکم کړي.

په همدې توګه، د اقلیمي بدلونونو، اقتصادي بحرانونو، نفوسو د زیاتوالي او ټکنالوژیکو بدلونونو په څېر نوي شرایط سیاسي سیستم اړ باسي چې خپلې پالیسۍ او اداري جوړښتونه د نوو اړتیاوو له مخې اصلاح کړي.

هغه سیاسي سیستم چې د زده‌کړې، تطابق او اصلاح وړتیا ولري، کولای شي د بدلېدونکو شرایطو په وړاندې خپل فعالیتونه تنظیم کړي او د ټولنې نویو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

۵.۹. د سیاسي سیستم د غبرګون او اصلاح د بهیر اساسي پراوونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سیاسي سیستم د غبرګون او اصلاح بهیر په عمومي توګه په لاندې پړاوونو کې تشریح کېدای شي:

۱. د معلوماتو او نظرونو ترلاسه کول : د خلکو، رسنیو، مدني ټولنو او څارونکو بنسټونو د نظرونو، شکایتونو او ارزونو راټولول.

۲. د معلوماتو تحلیل :(Feedback Analysis) د ترلاسه شویو معلوماتو ارزونه او د ستونزو او نیمګړتیاوو پېژندل.

۳. د ستونزو د علتونو معلومول : د دې څېړل چې ولې یوه پالیسي یا پربکړه خپلې ټاکل شوې پایلې نه دي ترلاسه کړې.

۴. د اصلاحي لارو ټاکل: د ستونزو د حل لپاره د مناسبو بدیلو لارو او اقداماتو ټاکل.

۵. د اصلاحاتو پلي کول: په پالیسیو، قوانینو، اداري جوړښتونو، بودیجه او اجرائیوي کړنلارو کې د اړتیا وړ بدلونونه راوستل.

۶. د اصلاحاتو د پایلو څارنه : د دې ارزونه چې ترسره شوي اصلاحات تر کومه بریده مطلوبې پایلې لري.

۵.۱۰: د سیستمونو تیورۍ له نظره د غبرګون او اصلاح تحلیل

دا برخه په ځانګړي ډول د سیستمونو تیورۍ له دوو بنسټیزو مفاهیمو سره ټراو لري:

a) د بېرته‌غبرګون (Feedback): د سیستم د فعالیتونو او پایلو په اړه د معلوماتو بېرته ترلاسه کول.

b) تطابق (Adaptation) : د ترلاسه شویو معلوماتو او بدلونونو له مخې د سیستم د فعالیتونو او جوړښت عیارول.

د دغو دوو مفاهیمو ترمنځ توپیر باید په پام کې ونیول شي: بېرته‌غبرګون سیستم ته معلومات ورکوي، خو تطابق د دغو معلوماتو او شرایطو پر بنسټ د سیستم د بدلون او عیارولو بهیر دی.

د غبرګون او اصلاح ساده ماډل:

- ✓ د پالیسیو پلي کول
- ✓ د پایلو او فعالیتونو ارزونه
- ✓ د خلکو او څارونکو بنسټونو غبرګون
- ✓ د ستونزو پېژندنه او تحلیل
- ✓ اصلاحي اقدامات او د پالیسیو بدلون
- ✓ تطابق او سازماني زده‌کړه
- ✓ دوامداره سیستمي اصلاح

د سیاسي سیستم د غبرګون او اصلاح په مطالعه کې باید یوازې د پالیسی پر بدلون تمرکز ونه شي؛ بلکې د خلکو ګډون، د معلوماتو کیفیت، د څارنې خپلواکي، د ادارو ظرفیت او د اصلاحاتو د عملي کېدو شرایط هم باید تحلیل شي. ځکه د بېرته‌غبرګون شتون په خپله د اصلاح تضمین نه کوي؛ د اصلاح لپاره سیاسي اراده، اداري وړتیا او د اقدام قانوني او عملي امکانات هم اړین دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵.۱۱. د دې برخې لنډه پایله

د سیاسي سیستم د غبرګون او اصلاح بهیر د دغه سیستم د دوام، اغېزمنتیا او تطابق لپاره اساسي اهمیت لري. سیاسي سیستم یوازې د خلکو د غوښتنو په ترلاسه کولو، د پرېکړو په نیولو او د پالیسیو په پلي کولو سره خپل فعالیت نه بشپړوي، بلکې باید د خپلو پرېکړو پایلې هم وارزوي، د خلکو نظرونه او نیوکې واوري او د موجودو نیمګړتیاوو د اصلاح لپاره اقدامات ترسره کړي.

د خلکو ګډون، د رسنیو خپلواکه ځارنه، پارلماني نظارت، د مدني ټولنو فعالیتونه، علمي ارزونې او د ټاکنو له لارې سیاسي قضاوت هغه مهم میکانیزمونه دي چې د سیاسي سیستم د حساب ورکونې او اصلاح بهیر پیاوړی کوي. د دغه بهیر له لارې سیاسي سیستم کولای شي خپلې تېروتنې وپېژني، د خپلو فعالیتونو له پایلو زدهکړه وکړي، سرچینې په اغېزمن ډول وکاروي او خپلې پالیسۍ د ټولنې له بدلېدونکو اړتیاوو سره برابرې کړي.

په لنډه توګه، د غبرګون او اصلاح بهیر هغه میکانیزم دی چې سیاسي سیستم د خپلو فعالیتونو پایلې درک کوي، خپلې نیمګړتیاوې اصلاح کوي او د ټولنې د اړتیاوو په وړاندې د ځواب ویلو وړتیا پیاوړې کوي.

نور محمد غفوری

(پاته برخه لري)

۲۰۲۶/۱۱/۱۲م

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ